# ادبي کره کتنه او نوې تاريخولي

# Literary Criticism and New Historicism

خان زمان کاکړ*


## Abstract:

This article seeks to address a crisis in the literary criticism in Pashto language through an attempt to highlight the importance of the study of literary texts within their historical contexts. It begins with a critical overview of current critical trends in Pashto literature, asking how Pashto literary critics are predominantly stuck on the primacy of literary texts and why they have hardly ever attempted to consider the non-literary texts as a historical context for the study of literary texts. It would be important for our literary critics and historians to develop a scholarly sense and use of the theory of new historicism and its applications because the deconstructing capacity of this theory promises to provide a much better theoretical and methodological premise for bridging the gap between ethnic Pashtuns and their cultural and intellectual past. New historicism discursively confronts the very underpinnings of new criticism and its alternative formalism that persistently assert the idea to regard the study of literature as literature and text as self-contained and self-explanatory.


څۀ ته چې مونږ په عمومي توګه ادبي کره کتنه وايو، موخه مو ترې دا وي چې کومه غېر ادبي کره کتنه (non literary criticism) هم وجود لري خو په اوسني دور کښې د مضامينو او موضوعاتو دا ډول وېش او کټاګورايزېشن ډېر د منلو وړ پاته نۀ شو ځکه چې په دې کښې ډېر هغه څۀ له نظره اچول کېږي چې د يو متن په مېنځ ته راوړلو کښې يې ونډه لرلې وي يا د متن په شنولو او سنجولو کښې راسره مرسته کولی شي. معاصره کره کتنه د ټولو مضامينو په مرسته، د متن د پېداوار په تاريخي چاپېريال او صورتحال او د متن د پنځوونکي د پېداواري اړيکو او د هغه د ژوند د کړۀ وړۀ په رڼا کښې کېدی شي. يوازې د متن کره کتنه مونږ په دومره څۀ نۀ پوهوي، څومره چې راڅخه لار ورکوي.

په پښتو کښې د تنقيد (criticism) دپاره کارېدونکې اصطلاح "کره کتنه" داسې يو تاثر لېږدوي چې له کره کتنې سره ځنګ پر ځنګ يا يې په مقابل کښې کومه "ناکره کتنه" هم وي، پوښتنه دا ده چې د ادبياتو د تاريخ ليکلو په وخت يا د ادبياتو په مرسته د تاريخ ليکلو په وخت

* MPhil Scholar, Department of Anthropology, Quaid-e-Azam University, Islamabad

يا د تاريخ په مرسته د ادبياتو د جاج اخيستلو په وخت که مونږ دا "ناکره -کتنې" له نظره واچوو نو د يو متن يا د متن د پنځوونکي په حقله څومره درسته رايه قايمولی شو؟ د رايې له قايمولو څخه مو موخه هيڅ کله دا نۀ ده چې مونږ دې کوم متن يا د متن پنځونکی په يوه له وړاندې موجودې خانې (category) کښې ځای پر ځای کړو بلکې دومره بايد وي چې ترې مونږ ته د يو مهال، د مهال د طاقت د اړيکو او په دې اړيکو کښې د پنځېدونکې علم و ادب د غوښتونو او موخو اندازه وشي. علم و ادب يو کلتوري عمل دی چې په تر سره کولو کښې يې له تاريخ، سياست، جغرافيې او معيشت څخه نېولې تر ساينس، ټيکنالوژۍ او تعليم پورې بې شمېره فکټورونه برخه اخلي.

زۀ چې په دې ليکنه کښې کوم پروبلم د پوښتنې په توګه ږدم هغه دا دی چې ولې تر اوسه زمونږ د ادبي کره کتونکو د مطالعې په ساحه کښې يوازې ادبي متون پاته شوي دي؟ دوی نۀ له "غېر" ادبي متون څۀ مرسته اخلي، نۀ ارشېفونو (archives) ته رسېدل غواړي، نۀ د يوې ادبپارې د کره کتنې په وخت د اديب ژوند ليک او د هغه دغه ادب پاره پر يو ځای سره ږدي او نۀ د ادب پارې د منځ ته راتللو له تاريخ د ډېرو زياتو سرچينو څخه څۀ رااخلي.

درويش دراني ليکي:

"ولې چې دا خبره اوس ښه سپينه شوې ده چې دغه ژبه (پښتو) زرګونه کاله عمر لري، خو داسې په کښې د يادولو وړ څۀ شی مونږ نۀ لرو چې لرغونتيا يې زرګونو کلونو ته رسېږي. په دې وروستيو وختونو کښې زمونږ ځيني ستر څېړونکي، د خپل زيار څراغ په لاس، د تاريخ په ډېرو تاريکو برخو کښې پسې وګرځېدل، خو داسې څۀ شی يې و نۀ موند چې مونږ يې د خپلې ژبنۍ پنګې په توګه دنيا ته په وياړ ورښکاره کړو او هغه يې راسره ومني چې هو دا ستاسې ژبنی ميراث دی او رښتيا هم د وياړ وړ دی. کوم څۀ چې په دغه ژبه کښې مونږ لرو د هغه پېل له هغو څو نظمونو څخه کېږي چې په پټه خزانه کښې راغلي دي. په کتابي شکل چې راسره کوم څۀ خوندي دي د هغو پېل د روښانيانو له دورې څخه کېږي. په دغه دوره کښې په رښتيا په پښتو کښې د علم و ادب د سړو او رڼو اوبو يوه خوږه چينه راوخوټکېده. دغه چينه تر ډېره پورې بهانده پاته شوه او له برکته يې د پوهې او ادب داسې ونې رازرغونې شوې، چې تر څو دغه ژبه ژوندۍ وي، مونږ به د هغو مېوه خورو. روښانيانو مونږ ته ډېر دېوانونه راکړل او هم دغه دېوانونه زمونږ د کلاسيکې شاعرۍ بنياد جوړوي." (1)

د پښتنو او د هغوی د زرګونو کالو د تاريخ تر منځ د شلون مسئله پر خپل ځای، که د روښانيانو د اثارو کره کتنه هم د شپاړسمې او اووۀ لسمې پېړيو د پښتنې ټولنې او ګېرچاپېره تاريخي، سياسي، معاشي او ټولنيزو حالاتو په رڼا کښې شوې وای نو نن به مونږ له يو لړ فکري

ستونزو څخه خلاص وو. داسې يو شمېر ليکنې شته چې پيرروښان د مغلو خلاف د پښتنو د يو قامي نهضت سرخېل او د يو ادبي مکتب بنسټ ايښوونکی ثابتوي او يا يې د يوې ځانګړې مرتبې يا مسلک صوفي او مذهبي ليکوال نوموي خو د پيرروښان د عصر او د هغه وخت د پښتني ټولنې د مادي صورتحال، کلتور، سياست او معيشت په حقله له مونږ سره د نوې ميتودولوژي پر اصولو ولاړه هيڅ يوه جامع څېړنه په لاس کښې نۀ شته چې د هغې په رڼا کښې د روښاني عصر د اثارو جايزه واخلو، ددې تر څنګ روښاني ادبيات له مونږ سره د تاريخ ليکنې په برخه کښې هم لويه مرسته کولی شي خو مونږ تر اوسه په دې نۀ يو توانېدلي چې د روښاني ادبياتو په مرسته د پښتنو د تاريخ دا يو ډېر مهم څپرکی بشپړ کړو.

هم داکمی د خوشحال خان خټک غوندې يو قدآور او معتبر شخصيت او د هغه د دورې د اثارو په نقد کښې تر سترګو کېږي، د دوست محمد خان کامل له درنې څېړنې او کره کتنې علاوه هيڅا دا هڅه ونه کړه چې د خوشحال د اثارو او افکارو جاج د هغۀ د عصر د مادي، ټولنيز او نظرياتي صورتحال په رڼا کښې واخلي، زياته انرژي پر دې صرف شوې چې خوشحال د تورې او قلم شاعر دی، د قام شاعر دی او تصوف هم په کښې شته. يوازې د پښتو کلاسيک ادب په حواله نۀ بلکې د خپل جديد ادب تنقيد مو هم د جديدو ادبي نظرياتو په رڼا کښې و نۀ کړ، ډېره ګرانه راته برېښي چې په اوسني ادبي صورتحال کښې به څوک د پوسټ ماډرن نقد غوندې بې رحمه نقد راسره برداشت کاندي.

که د يوې ژبې لرغونتيا زرګونو کالو ته رسېږي نو د علم لرغونتيا به يې هم دومره وي، ژبه صرف د ابلاغ ذريعه نۀ وي بلکې د معلوماتو، تجرباتو، جمالياتو او ادبياتو خزانه هم وي، دا ځۀ چې مونږ د اولسي ادب په بڼه په لاس کښې لرو، تر ليکلي ادب يې ارزښت کم نۀ دی، هم دا ډول دا اولسي ادبيات د پښتنو تاريخ ګرځېدلی شي. چې يوه ژبه وي نو هغه څنګه بې پڼګې پاته کېدی شي؟ مونږ دا هم بايد په پام کښې ولرو چې دا ژبنۍ پڼګې داسې نۀ وي چې په رښتيا هم داسې جوړې شوي وي بلکې دا د وخت د ضرورت مطابق واک لرونکي خلق يا رياستونه يې جوړوي. هم داسې د تاريخ مسئله ده. په روايتي توګه تاريخ ته اکثر د ماضي په حقله د رښتياوو د مجموعې په توګه کتل شوي دي خو حقيقت داسې نۀ دی، تاريخ اکثر د پرون تر رښتيا زيات د نن له اړتيا سره تعلق لري. که د نن سترګې نۀ وي د پرون هيڅ منظره نۀ شته.

دا خو د تاريخي کره کتنې د نيشت سوال دی خو نوې تاريخي کره کتنه تر دې وړاندې ځي او په خپله تاريخي اثار تر سوال لاندې راولي.

د نوې تاريخولۍ نظريه په نولس سوه اتيايمو کلونو کښې زنې نيسي، په ظاهره خو فورماليستي کره کتنې ته يو غبرګون ۋ، د ريناسانس ادبياتو ته يو نوې تاريخي کره کتنه په

داسې ډول وه چې هغه ادبيات يې په يو تاريخي تناظر کښې کښېښوول خو د پوستې سټرکچرلزم په مرسته يې اخير هغه تاريخي تناظر هم چېلنج کړ چې يوازې يې د يو متن پسِ منظر د کره کتنې اصول ګاڼۀ يعني د يو متن د منځ ته راتللو په تاريخي اوضاع يا مادي صورتحال پوهېدل او په کار راوړل يې شرط اېښوو.

د نوې تاريخي کره کتنې له مخې تاريخ په خپله يو متن وي، او تاريخ داسې يو شي نۀ وي چې چېرې په رښتيا يې وجود لرلی وي. نوې تاريخي کره کتنه د ليکوالو ژوند ليکونو ته اساسي ارزښت ورکوي او د هغوی اثار هم د هغوی د ژوندليکونو په رڼا کښې ګوري، نوې تاريخي کره کتنه د ليکوالو د اثارو پر بنياد د هغوی د ژوند ليکونو د ترتيب سپارښتنه کوي. په هم دې توګه يوازې د ليکوال يا د هغه د اثارو جاج وا نۀ خيستل شي بلکې په مرسته يې د ټولنې د نورو برخو تاريخ هم ورغول شي.

"New historicism is a mode of critical interpretation which privileges power relations as the most important context for texts of all kinds. As a critical practice it treats literary texts as a space where power relations are made visible."(2)

ژباړه: (نوې تاريخولي د تنقيدي تفسير هغه طرز دی چې د طاقت اړيکې د هر ډول متون د پاره تر ټولو مهم چاپېريال ګڼي. د يو تنقيدي عمل په توګه نوې تاريخولي ادبي متون د داسې ساحې په توګه اخلي چرې چې د طاقت اړيکې راڅرګندېږي)

په دې مقاله کښې ليکوال په شعوري توګه په ادبي تنقيد کښې د نوې تاريخولي د نظريې انتخاب هم په دې دليل کړی چې په پښتو کښې ادبي تنقيد تخليقات او اثار په خپل تاريخي تناظر کښې د اېښوولو پر ځای يوازې لېبل کړي دي، د خانو (categories) په جوړولو بوخت پاته شوی دی، چې پلانی اثر د قام پرستۍ په خانه کښې راځي، پلانی د تصوف، پلانی د رومانيت او پلانی د آفاقيت.

د نوې تاريخولۍ تر نظريې مخکښې ادبي دورې (literary periods) داسې نومول کېدې لکه د رينسانس دوره، د نيوکلاسيسيزم دوره، د رومانټيسيزم دوره خو د نوې تاريخولۍ نظريې د ادبي دورو دا ډول وېش چېلنج کړ، دليل يې دا وړاندې کړ چې دورې له يو لړ تضادونو، کشرتونو او اختلافونو ډکې وي، يوه پوره دوره په يوه خانه کښې نۀ شي بندېدی. د هم دې نظريې مخکښانو په ډېره شعوري توګه د رينسانس پر ځای د وختي جديد (early modern) د اصطلاح کارول پېل کړل، د نيوکلاسيسيزم پر ځای به يې د اتلسمې پېړۍ اصطلاح کاروله او هغه ادبيات چې په خوا د رومانټيسزم تر سرليک لاندې اېښوول کېدل د هغې دورې مطالعه يې د اتلسمې پېړۍ د اواخرو او د نولسمې پېړۍ د اوايلو تر سرليک لاندې راوسته.

په پښتو ادب کښې پر تاریخولي او نوې تاریخولي د بحث بل دلیل دا دی چې د پښتنو او د هغوی د تاریخ تر منځ یو شلون (rupture) لوېدلی دی، که دوی له خپل ماضي سره وتړل شي ښايي مخ ته یوه لاره وټاکي او بل دا هم چې د پښتنو په حقله کوم څۀ د تاریخ په نوم خپلو او پردیو لیکلي آیا زمونږ ادبي اثار یې تصدیق کوي که نۀ د پښتنو د پرون د ژوند له یو بل ډول تصویر او تصور سره مو اشنا کوي؟ زمونږ په فولکلور کښې څۀ ډول پښتون او پښتو مېشته دي؟ له ننني پښتنو او پښتو څۀ بدل غوندې دي او له هغو پښتنو او پښتو خو بېخي بدل دي چې د پردیو یعني مستشرقینو په کتابونو کښې پېش کړل شوي دي، دا چې بدل دي نو د کوم وخت دي، د هغه وخت څۀ مزاج، غوښتنې او اړتیاوې وې؟ زما په اند ادبي تنقید یوازې د یو ادبي اثر د ښو او بدو اړخونو د بېلوالي منصب نۀ دی، ماته ددې ښو او بدو د بېلوالي فلسفې کله هم چندانې اپیل نۀ دی کړی، د ادبي تنقید منصب د ادبي اثارو په جاج کښې یو نوی ډول تاریخ هم مرتب کول وي.

د نن کره کتنه کېدی شي سبا یوه ناکره کتنه وګڼل شي، هم داسې څۀ ته چې مونږ د پرون څېړنه یا تاریخ وایو، داسې څۀ شته نۀ چې مونږ ورته پرون ووایو، د پرون تشکیل کېږي، پنځول کېږي، د نن د غوښتنو په رڼا کښې پرون تخلیق کېږي.

"نئی تاریخیت کے مطابق ادب او تاریخ میں اٹوٹ رشتہ ہے اس لئے تاریخ محض علم کا کوئی خزانہ نہیں ہے بلکہ اسے ادبی متن کے طور پر سمجھا جاسکتا ہے. گویا ادب تاریخ کی نمائندگی کا ایک ذریعہ ہے جس میں بصیرتیں تاریخ کے عوامل کے ساتھ پیش ہوتی ہیں. گویا ادب ہی تاریخ میں تبدیلی کا باعث ہے. Literature کے متون تاریخ کے واقعات پر اثر انداز ہوسکتے ہیں. سیاسی، سماجی معاملات میں نیز عقائد کے سلسلے میں بھی. گویا تاریخی مطالعہ ادبی مطالعہ بھی ہے اور جس طرح کسی ادب کے متن کا جائزہ لیا جاسکتا ہے بالکل اسی طرح تاریخ کے متن کا بھی. ntroseLivis Mo کے مطابق تمام متون دراصل سماجی اور ثقافتی کوائف ہیں اور تاریخ کی متنیت دراصل گزرے ہوئے زمانے کے وہ متنی حوالے ہیں جو سماج میں اس وقت موجود تھے. گویا سارا زور سماج کی منطق پر ہے اور ظاہر ہے نئی تاریخیت میں سماج اور ثقافت کو منہا کرکے کوئی بات نہیں بن سکتی ہے"(۳).

ادبي متون په ځان کښې تاریخ خوندي ساتي هم تاریخي متون خپل ادبیات لري، د متن تاریخولي (historicity of text) او هم د تاریخ متنولي (history of textuality) د دوه طرفه عمل په توګه یوازې د متن پر کره کتنه اکتفاء نۀ کوي بلکې د تاریخ کره کتنه هم ضروري

فهموي چې په خپله تاريخ دی څهٔ، څنګه ليکل کېږي، د کوم مقصد دپاره او په کومه وسيله ليکل کېږي؟ څنګه چې د هر علم يو تاريخ وي او دا چې تر مونږ رارسېږي په کلتور کښې ددې د راسرولو کار د يو طاقت (power) په وسيله تر سره کېږي.

نوې تاريخي کره کتنه د ادبي متون د جاج په وخت له ارشيفونو څخه هم مرسته اخلي، په نورو ټکو نوې تاريخولي ادبي متون د ارشېفونو په سياق و سباق يا رڼا کښې ګوري. نوې تاريخولي متن په تاريخي سياق و سباق کښې اخلي خو پر ادبي او غېرادبي امتياز يې باور نهٔ لري. په دې ډول کولو سره د فورماليستې کره کتنې جمالياتي معيارونه ګوابنې.

لکه چې مخکښې ووئيل شول د نوې تاريخولۍ نظريه په پېل کښې فورماليسټ او سټرکچرليسټ نقد ته د يو غبرګون په توګه ليدل کېده، خو د غوړېدلو په جريان کښې يې له مارکسزم او پوسټ سټرکچرلزم څخه په استفاده يوه ډېره نوې او موثره لاره وټاکله. د نوې تاريخولۍ نظريه په ځانګړې توګه د فرانسوي مفکر مېشل فوکو (Michel Foucault) له کار او افکارو څخه يوازې جزوي اخيستنې نهٔ کوي بلکې د متونو له باهمي تعلق څخه نيولې تر ډسکورس شننې، د علم او طاقت تر نهٔ بېلېدونکې تعلق پورې، په متن کښې د کارفرما تاريخي عواملو او په تاريخ کښې د کارفرما کلتوري او ټولنيزو عواملو پورې هر څهٔ له فوکو څخه اخلي او دې نتيجې ته رسي چې نهٔ د کوم ادبي متن او نهٔ هم د ادبي کره کتنې څهٔ ازاد حثيت شته، ماضي ته د کره کتونکي رجوع په خپله د هغه له تاريخي موقعيت څخه ازاده نهٔ ده. ادبي متن په خپله د ځان تشريح نهٔ شي کولی څهٔ چې د نوي تنقيد ادعاء ده چې متن self - explanatory وي بلکې په يو متن د پوهېدلو دپاره د هغه د منځ ته راتلو په مهال، اوضاع او چاپېريال پوهېدل په کار دي خو د متن د مهال، اوضاع او چاپېريال افاده کول يا د تاريخ په نامه د دې ثبتول په خپله يو ادبي، تخليقي او تخيلاتي عمل دی. تاريخ څهٔ معروضي (objective) نهٔ بلکې تشريحي (interpretive) شی دی.

"Despite the fact that the New Historicism wants to return us to the real world, it must acknowledge that the return is language-bound. It is by means of language that the real world shapes itself. That's why the New Historicist lays so much emphasis on the idea that the relationship between literature and history is reciprocal. Yes, history conditions what literature can say in a given epoch. History is an important way of understanding the valency of certain kinds of utterance at certain times. As what Greenblatt calls the "old historicism" had always argued, history is the background of discourse or literature. But the New Historicism wants to emphasize something quite different. Literature itself has historical agency, the discursive power to influence history reciprocally"(4) .

ژباړه: «باوجود ددې چې نوې تاریخولي مونږ حقیقي دنیا ته واپس راوستل غواړي خو دا واپسي د ژبې له قېده ازاده نۀ ده. حقیقي دنیا خپل شکل هم د ژبې په واسطه مومي. هم دا وجه ده چې نوې تاریخولي پر دې تصور ډېر زیات زور راوړي چې د ادبیاتو او تاریخ تعلق دوه طرفه دی. هو، تاریخ په یو ټاکلي وخت کښې ادبیاتو ته قید ړدي. تاریخ په ځانګړو حالاتو کښې د څۀ اظهار د ځانګړو ډولونو په جوړښت د پوهېدلو تر ټولو مهمه لار ده څۀ ته چې ګرینبالټ "زړۀ تاریخولي" وایي چې تاریخ یې همېشه د ډسکورس یا ادبیاتو د پسِ منظر په توګه اخیستی دی. خو نوې تاریخولي بېخي یو بدل ټکی په ګوته کوي. ادبیات په خپله یوه تاریخي سرچینه ده، یو ډسکرسیو قوت لري او پر تاریخ دا ډول اغېز لري څنګه چې یې تاریخ پر ادبیاتو لري»

د ادبیاتو او تاریخ دا دوه طرفه عمل او تفاعل که په پام کښې ونیول شي نو نۀ یوازې به په پښتو کښې د ادبي کره کتنې پر موجود بحران قابو وساتل شي بلکې پښتنو ته به د تاریخي اثارو د نشتوالي یا خوار والي پېښنه هم تر ډېره حده هواره شي. په اوسنۍ دنیا کښې که یو خوا ادبي کره کتنه د یو متن د ښۀ والي او بد والي تر اخلاقي دایرې بهر وتلې ده نو بل خوا تاریخ هم د تقدس او رښتیا د منصب پر ځای د پاور په اړېکو کښې پنځېدونکی یو داسې شی ګرځېدلی چې حثیت یې یوازې د یو متن دی او د متن د منځ ته راتلو خپلې موخې او سیاستونه وي. اسدالله غضنفر لیکي:

"که زمونږ په ادبپوهنه کښې د ادبیاتو مختلفې نظریې چې ټولنپوهنیز، ژبپوهنیز او اروا پوهنیز بنیادونه لري، شاملې شي، د ادبیاتو فارغان به مو ادبي اثارو ته د نوې کتنې وس پیدا کړي او په ادبیاتو سربېره به تاریخ، سیاست، ټولنې او فرهنګ ته له نویو لیدلوریو وګوري. پخوانو مورخانو به په دې څېړنه کوله چې څۀ پېښ شول؟ خو هغه صاحب نظران چې تاریخ ته اوس د نویو نظریو په رڼا کښې ګوري له دې سره زیاته دلچسپي لري چې پېښه څنګه تعبیر او تفسیر شوې ده؟ او دغه تفسیرونه د خپلو مفسرانو په باره کښې څۀ راښیي؟ هغه څۀ ته چې د ۱۳۵۷ کال د ثور په اوومه پېښ شول، ځیني کسان د ثور انقلاب وایي، اکثره کسان ورته د ثور کودتا وایي، یو شمېر نور یې د ثور حادثه بولي او یو نیم ځای د تحول صفت هم ورته استعمال شوی دی. د تاریخ د نویو نظریو د پیروانو په اند، تاریخي معلومات په شعوري یا لاشعوري ډول د لیکوال د لیدلوري تر اغېز لاندې دي او که دغه لیکوال هر څومره زیات باوري وي چې عینیت او بې طرفي ته وفادار پاته شوی او خپلې غوښتنې یې په لیکنه کښې نۀ دي شاملې کړې، هغومره ډېر امکان شته چې لیکنه یې د هغه چاپېریال او فرهنګ تر اثر لاندې وي چې د لیکوال شخصیت یې جوړ کړی دی." (۵)

د پښتو د شلمې پېړۍ د ادبیاتو کره کتنه که د متن له قید څخه راښهر شي نو د نوابادیاتي دور یو ډېر پراخ تاریخ یې په لاس کښې دی، ارشیفونه شته، د ختیځ پوهانو کتابونه شته، پر دې کتابونو نقدونه شته خو دا هغه وخت ممکنه ده چې پښتانهٔ کره کتونکي په لاس کښې لرونکي دا ټول دستاوېزات د "غېرادبي" متونو په نامه رد نهٔ کړي بلکې د ادبي متونو د سیاق و سباق په توګه یې واخلي.

مونږ په یویشتمه پېړۍ کښې پر یو داسې نازک پړاؤ ولاړ یو چې د تاریخ په نوم ډېر کم مواد په لاس کښې لرو او دنیا مو دا کم مواد هم په افسانه نوموي. د تاریخ او افسانې تر منځ پر ورانېدونکې برید پوله ولاړ پښتون کره کتونکی باید خپله منصبي فریضه درک کړي، کره کتنه د یو متن د ښو او بدو اړخونو د بېلوالي د منصب پر ځای د علم او تاریخ د پېداوار د تېکنیک په توګه واخلي او د ادبي متن له قېد څخه په ځان ازادولو سره د کلتور او تاریخ نورو ګڼ شمېر سرچینو ته رجوع وکړي.

***

# حوالي

(1) درانی، درویش، پښتو عروض، صحاف نشراتی موسسه کوټه، ۲۰۰۷، مخ ۲۱

Macmillan Press ,New Historicism and Cultural Materialism ,John ,Branningn 6.P ,1998 ,London (2)

(3) اشرفی، وہاب، مابعد جدیدیت: مضمرات و ممکنات، پورب اکادمی اسلام آباد، ۲۰۰۷، ص ۱۲۳

(4) Yale Univ ,Literature Theory of .P .H ,Fry ,ersity Press London2012P 250 .

(5) غضنفر، اسدالله، کلتور او ټولنه، مومند خپرندویه ټولنه، جلال اباد، ۱۳۹۳لمریز، مخونه ۱۵۹-۱۶۰